# شتمني
# SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

شنبه | دذولحجة الحرم ۲۹ - ۱٤٤٥ل س/ د چنګاښ ۱٦-۱٤٠٣ل ل/ د جولای ٦-۲٠۲٤ز/دریم کال / ۱٠٥ ګڼه/ ٤ مخیزه




**هر مسئول یا آمر باید ریښتینی مسئولیت ادا کړي**

**د حدیث ژباړه:** له حضرت معقل بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي د مسلمانانو د یو رعیت ذمه دار وګرځي او بیا له هغوی سره د چل او فریب معامله وکړي او دی پر دغه حالت باندي مړ سي؛ نو الله تعالی پر ده باندي جنت حراموي.

رواه البخاري باب استرعي رعیه فلم ینصح (ص: ۱٠٥۷ ج:۲).

**هر مسؤل یا آمر باید مسؤلیت حقیقی خود را ادا نماید!**

**ترجمه حدیث شریف: از حضرت معقل بن یسار رضی الله عنه روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: زمانیکه شخص ذمه‌دار یک رعیت مسلمانان باشد و با آنها در معامله فریب کند و از نیرنگ کار بیگیرد و در این حالت بمیرد؛ بدون شک، الله متعال جنت برای او حرام می سازد.** [رواه البخاري باب استرعي رعیه فلم ینصح (ص: ۱٠٥۷ ج:۲).]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سر مقاله

### افغان- ازبک سوداګریزي او اقتصادي اړیکي

د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو په ډله کي ازبکستان په اقتصادي ډګر کي له دې هیواد سره د اقتصادي، سیاسي او کلتوري اړیکو او همکاریو په برخه کي یو ښه ملګری پاته سوی، چي په ځانګړې توګه د اسلامي امارت له بیا ځلي واکمنېدو سره د اقتصادي فرصتونو او پانګوني په لټه کي دئ. اسلامي نظام هم په بلمقابل عمل کي دغه هیواد ته د غوره همکاری، پروژو د امنیت ساتني، اقتصادي غښتلتیا او ښه ګاونډیتوب ټېر وهلی او له دوی څخه ئې په کراتو غوښتي، چي راسي او په افغانستان کي پراخه پانګونه وکړي؛ ځکه په افغانستان کي اوس د پانګوني پراخ فرصتونه شتون لري او په ټول هیواد کي امنیت ټینګ دئ. ازبکستان له لومړنیو ګاونډیو هیوادونو څخه وو، چي د نوي نظام په راتګ سره ئې خپلي اقتصادي او سیاسي اړیکي بیرته ژر ورغولې او تر اوسه پوري د اړیکو په پراخولو کي مخکښ پاته سوی. ازبکستان او قطر د افغانستان ټرانس - افغان رېل پټلی د جوړولو د پروژې پر سر لا پخوا ناستي کړې او په دغه برخه کي هم پانګوني ته لېوالتیا لري. دا پروژه د ازبکستان د ولسمشر شوکت میرضیایف په مشری د قطر د لومړي وزیر او د بهرنیو چارو وزیر شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني په مشری له پلاوي سره په کتنه کي څېړل سوې ده. پر دې سربېره دواړو خواوو د لیدلو په مهال د سوداګری او اقتصاد، پانګوني، ټرانسپورټ او مواصلاتو په برخو کي د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا هم لیده کاته کړي دي. د اورګاډي پټلی جوړولو دا پروژه، چي په سوداګریز لحاظ مرکزي اسیا له سویلي اسیا سره نښلوي، له مخي ئې دواړو هیوادونو د ګډې پانګوني د پروژو د ترغیب او ژر تر ژره د دوی د مالي ملاتړ له پاره د اغېزمن میکانیزم د جوړېدو د ارزښت ټکي په ښه کوي. د ازبکستان، افغانستان او پاکستان چارواکو هم د (۲٠۲۱ ز) کال په فیبروری کي د ترمز ـــ مزار شریف ـــ کابل - پېښور رېل پټلی د جوړولو له پاره د سړک نقشه لاسلیک کړه، چي د محاسبې په اساس د پنځه ملیارده امریکایي ډالرو په لومړني لګښت سره نوی ټرانسپورټي دهلېز، چي تر (۲٠) میلیون ټنو پوري د محمولو د ټرانزیټ ظرفیت لري باید اروپا، روسیه، ازبکستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان او بیا همداسي د سویل ختیځي اسیا هیوادونه سره و نښلوي. په دې وروستیو کي د ازبکستان او افغانستان ګمرکي مسئولینو هم په ګمرکونو کي د اسانتیاوو رامنځته کولو او ګمرکي معلوماتو د شریکولو په تړاو پرلپسې ناستي کړې. همداراز تر ټولو نېږدې لیدنه د ازبکستاني پانګوالو ده، چي د ماليې له وزیر سره ئې د هغه په کاري دفتر کي درلوده او دوی په افغانستان کي د کانونو، صنعت، برېښنا او د سیستمونو د عصري کولو په برخو کي د پانګوني لېوالتیا ښودلې او د پانګوني له پاره ئې د اړینو همکاریو غوښتنه هم وکړه. په دغه لیدنه کي د ماليې وزیر له دوی سره ژمنه وکړه؛ چي له ټولو اوصولي او قانوني همکاریو به ګټه اخلي او اړیني اسانتیاوي به ورته برابروي. همدارنګه د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د روابطو په لوړولو سره سوداګرو ته هم اسانتیاوي رامنځته سوي او سوداګریزي اړیکي لا نوري هم پراخي سوي دي، چي بېلګه ئې په مرکزي اسیا کي د افغانستان د محصولاتو له پاره د بازار موندنه، د مالیاتي او ګمرکي تعرفې نرخ او د سیمي له رېل کرښو سره د افغانستان د رېل کرښي وصلېدل دي. د افغانستان اسلامي امارت د سیمي او په ځانګړې توګه له ګاونډیو هیوادونو سره د پراخو اړیکو د پاللو له پاره ټولیز میکانیزم لري او له ټولو سره د اقتصادي او سیاسي پلان له مخي خپلي اړیکي پیاوړي او تل پاتي غواړي، چي په دې برخه کي د ماليې وزارت او ازبکستان د ماليې وزارت د مسؤلینو لیدني ګټوري تمامي سوي او د سوداګری اسانتیا او پراختیا ته ښه زمینه برابره سوې ده.

در نبشت
اداره

## د ماليې وزیر د ازبکستان هیواد له یو شمېر پانګوالو سره وکتل



د ماليې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند په خپل کاري دفتر کي د ازبکستان هیواد له یو شمېر پانګوالو سره وکتل. د ماليې وزیر په پیل کي د ازبکستان څخه راغلیو پانګوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، چي په هیواد کي د پانګوني له پاره اړین فرصتونه برابر دي؛ فساد له منځه وړل سوی او بشپړ امنیت ټینګ سوی دئ، چي ټول کورني او بهرني پانګوال له دې فرصت څخه په ګټې اخیستني سره په ډاډه زړه په مختلفو برخو کي پانګونه کولای سي. ازبکستاني پانګوالو په افغانستان کي د معدنونو، صنعت، برېښنا او د سیستمونو د عصري کولو په برخو کي د پانګوني لېوالتیا وښوده او د پانګوني له پاره ئې د اړینو همکاریو غوښتنه وکړه. د ماليې وزیر په افغانستان کي د ازبکستاني پانګوالو د پانګوني له لیوالتیا څخه مننه وکړه او دوی ته ئې په یادو برخو کي د پانګوني له پاره د لازمي همکاری او اړینو اصولي اسانتیاوو برابرولو بشپړ ډاډ ورکړ.

## د اصنافو استازو ته د مالیاتي پروسې په تړاو د عامه پوهاي سیمینار وړاندي سو




د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست د امیرالمؤمنین (حفظه الله) له نوي فرمان سره سم د اصنافو (دوکاندارانو او کسبګرو) د مالیاتي معافیت او تخفیفونو د غوره پلي کولو په موخه او په ټولیزه توګه د مالیاتي پروسې په تړاو سیمینار د یوې ناستي په ترځ کي د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمی د غونډو په تالار کي ترسره کړ. په دې ناسته کي د عوایدو لوی رئیس مولوي حافظ شاه حسین حسیني، د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسی رئیس مولوي نداء محمد صدیقي، د کسبګرو او دوکاندارانو د خوني لوی رئیس حاجي شېرین آغا سخي او د اصنافو استازو ګډون کړی وو. د عوایدو لوی رئیس مولوي حافظ شاه حسین حسیني د دغه سیمینار په پرانیستې وینا کي وویل، چي خلکو ته د اسانتیاوو رامنځته کول او د هغوی د ستونزو حلول د افغانستان اسلامي امارت تګلاره ده او تل ئې په دې برخه کي هڅه کړې ده. د مالیاتي جریمو معافیت او (٠,۳) سلني ته د اصنافو د ماليې راکمول ئې یوه غوره بېلګه ګڼلی سو. د عوایدو لوی ریاست اصولو ته په کتو او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له فرمان سره سم خپل تطبیقات ترسره کړي او په دې برخه کي له تاسي څخه د همکاری غوښتونکی دئ. د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسی رئیس مولوي نداء محمد صدیقي وویل، چي د نننی غونډې موخه اصنافو ته د اسانتیا رامنځته کولو او په اسانه ډول د مالیاتو راټولو په تړاو د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان پلي کول دي، چي د عامه پوهاي سیمینار د اسلامي امارت د رهبری د فرمان پلي کولو او د مالیاتي ادارو او اصنافو ترمنځ د افهام او تفهیم یوه غوره وسیله ده، دا ډول سیمینارونه د خلکو د پوهاوي او د مالیاتي اطاعت پذیری په برخه کي مهم رول لوبوي. د افغانستان د کسبګرو او دوکاندارانو خوني رئیس شېرین آغا سخي د اسلامي امارت له رهبری او مسئولینو څخه خلکو ته د اسانتیا رامنځته کولو او د هغوی د وړاندیزونو د منظوری له امله مننه وکړه او د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان د پلي کولو او د رڼو او پر وخت مالیاتو د ورکړې په برخه کي ئې بشپړ ډاډ ورکړ. د یادوني وړ ده، چي په دغه یو ورځني سیمینار کي د یوه پریزینټېشن په ترځ کي د اصنافو ټولو استازو ته په حضوري او که په آنلاین بڼه ئې برخه اخیستې وه، د مالیاتو، د مالیاتو د ډولونو، د مالیاتو د بهیر، طرزالعملونو، د مالیاتي نورمونو، مالیاتي لایحو، اظهارنامو او د عوایدو لوی ریاست د موخو په تړاو معلومات وړاندي سول او د ګډونوالو پوښتني هم ځواب سوې.

## د کابل ګمرک د ختیځ لوري دېوال د بیا رغوني چاري پیل سوې



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د یو شمېر مسؤلینو له لوري د څه باندي (یو میلیون) افغانیو په ارزښت د کابل ګمرک د ختیځ لوري دېوال د بیا رغولو پروژه پرانیستل سوه. د دغه رغنیزي پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او رغنیزي چاري به ئې هم د یوه افغاني شرکت له لوري د درو میاشتو په موده کي بشپړي سي. د یادي پروژې په بشپړېدلو سره به د سوداګرو او د ګمرک کارکوونکو له پاره اسانتیاوي برابري سي او ورسره به د سوداګریزو مالونو د خوندیتوب ساحه پراخه سي.




**د ۱٤٠۳ مالي کال عوایدي هدف ته د رسېدو پر څرنګوالي خبري وسوې**

م ۲



**د صنعت او سوداګری وزارت له مسؤلینو سره پر مالي او عایداتي مسایلو خبري وسوې**

م ۲




**د معلوماتي ټکنالوژی د روزنیزو پروګرامونو ۲۷ تنو ګډونوالو ته تصدیق پاڼي ورکړل سوې**

م ۲



**د فراه ولایت د ابو نصر فراهي ګمرک کارکوونکو ته روزنیز پروګرام پیل سو**

م ۲



**تامین مالی اسلامی**

م ۳



**افغانستان د (۳) میاشتو په جریان کي د (۳٠٤) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي**

م ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# د ۱۴۰۳ مالي کال عوايدي هدف ته د رسېدو پر څرنګوالي خبري وسوې

د ماليې وزارت د عوايدو د لوی رئيس مولوي حافظ شاه حسين حسيني په مشرۍ جوړه سوې غونډه کې، د روان (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال عوايدي هدف ته د رسېدو پر څرنګوالي، پر حقيقي اشخاصو باندي د انتفاعي ماليې پر څرنګوالي او له ګاونډيو هيوادونو څخه په راستنېدونکو افغانانو باندي د مالياتو د معافيت پر ميکانيزم خبري او لازمي پرېکړې وسوې.

په دغه غونډه کي همدا راز ټينګار وسو، چي د ماليه ورکونکو له پاره دي په اړوندو برخو کي لا ډېري اسانتياوي برابري سي او د دوی ستونزو ته دي پر وخت او ښه توګه رسېدنه وسي.




# د صنعت او سوداګرۍ وزارت له مسؤلينو سره پر مالي او عايداتي مسايلو خبري وسوې

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال مولوي منصورالحق ذاکر او د غيرمالياتي عوايدو رئيس امان الله امين، د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مالي او اداري چارو لوی رئيس محمد هاشم عمري او د دغه وزارت له يو شمېر مسؤلينو سره په کتنه کي، په اړوندو مالي او عايداتي موضوعاتو خبري وکړې.

په دغه ناسته کي دواړو لوريو، د (سرټيفيکېټ آف اوريجن) او انوايس عايداتي سرچينو د انتقال په هکله د رياست الوزراء عالي مقام د حکم د تطبيق په اړه مفصل بحثونه وکړل او په دې برخه کي ئې د ښو اجراآتو لاري چاري رابرسيره کړې.



همدا راز، د صنعت او سوداګرۍ په وزارت کي د واحد چتر رياست له پاره د يوه تولېز پروپوزل پر جوړولو هوکړه وسوه، چي خپلي تجهيزاتي اړتياوي به په منظم ډول تثبيتوي او د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست له تخنيکي ټيم سره به ئې شريکوي.

په دغه غونډه کي د اړوندو چارو د لا ښه پرمختګ په موخه د دواړو وزارتونو ترمنځ پر لا ښې همغږۍ رامنځته کولو هم ټينګار وسو.

# د معلوماتي ټکنالوژۍ د روزنيزو پروګرامونو ۲۷ تنو ګډونوالو ته تصديق پاڼي ورکړل سوې

د ماليې وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست (۳۰) تنو کارکوونکو ته د دغه وزارت د بشري سرچينو رياست له لوري د (۴) مياشتو له پاره د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کي روزنيز پروګرام جوړ سوی وو؛ د درسونو له بشپړاوي وروسته (۲۷) تنو ګډونوالو رقابتي ازموينه په برياليتوب ترسره او تصديق پاڼي ورکړل سوې.

په همدې پار د ماليې وزارت په خيرهال کي يوه ناسته جوړه سوې وه، چي د ماليې وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رئيس انجنير عمران احمد فرحان، د زوم بايټ ټکنالوژۍ شرکت مرستيال منير احمد عيسی خېل، د بشري سرچينو رياست د روزني او ظرفيت لوړوني آمر محمد نادر همايون او يو شمېر نورو کارکوونکو پکښې ګډون کړی وو.

ياده ناسته د قرآن عظيم الشان د مبارکو ايتونو په تلاوت سره پيل سوه، ورپسې د ماليې وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رئيس ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ ووېل، چي د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست د کارکووونکو د ظرفيت لوړوني په موخه د بشري سرچينو رياست د هلو ځلو او همکارۍ په پايله کي د (CCNA، MCSA او Visualization) په برخو کي، چي کوم روزنيز پروګرام جوړ سوی وو، ګټور تمام سوی دئ او په راتلونکي کي به هم دغه ډول روزنيز پروګرامونه د کارکوونکو له پاره جوړ سي.

عمران احمد فرحان زياته کړه، چي د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه به اکونټونه جوړ سي؛ ترڅو د دې رياست ټول کارکوونکي وکولای سي د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند انلاين روزنيزو پروګرامونو څخه ګټه پورته او خپلي وړتياوي لوړي کړي.

د زوم بايټ ټکنالوژيکي خدمتونو شرکت ( ZOOM BYTE IT SERVICES) مرستيال ووېل، چي د




(CCNA، MCSA او Visualization) روزنيزو پروګرامونو جوړول به د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست کارکوونکو سره مرسته وکړي، چي د شبکې جوړوني په برخه کي ډېرو ستونزو ته د پای ټکی کښېږدي.

په پای کي د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست کارکوونکو ته تصديق پاڼي هم ووېشل سوې.

# د ګمرکونو لوی رياست د قانون د تنفيذ رياست له پاره نوی رئيس وګومارل سو




د ماليې وزارت د مقام په وړانديز او د رياست الوزراء عالي مقام په منظورۍ، مولوي خيرالله (صبغت الله) شهيد زاده، د ګمرکونو لوی رياست د قانون د تنفيذ د رئيس په توګه له ټاکل کېدو وروسته، د ګمرکونو او عوايدو د معين ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس) له لوري د يو شمېر مسؤلينو په شتون کي، اړوندو کارکوونکو ته ور وپېژندل سو.

د ګمرکونو او عوايدو معين، د ياد رياست د مخکيني رئيس له تر سره سوو کړنو څخه مننه وکړه او نوي ګومارل سوي رئيس ته ئې په اړوندو چارو کي د برياليتوب هيله وکړه.

د يادوني وړ، ده چي ښاغلي شهيد زاده د ګمرکونو په بېلابېلو بستونو کي دندي تر سره کړي او په ګمرکي چارو کي د پوره کاري تجربې لرونکی دئ.

# د فراه ولايت د ابو نصر فراهي ګمرک کارکوونکو ته روزنيز پروګرام پيل سو

د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمی له لوري د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له روزنيز پلان سره سم د ساحوي روزنيزو پروګرامونو په لړ کي د ابو نصر فراهي ګمرک کارکوونکو ته د ګمرکي مسايلو د زده کړي او د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د ګمرکي قوانينو، ګمرکي کړنلارو، ګمرکي بيې ټاکني، تعرفې او په نورو اړوندو برخو کي روزنيز پروګرام پيل سو.



دغه روزنيز پروګرام، چي دوې اوونۍ به دوام وکړي د ياد ګمرک د کارکوونکو مسلکي او مديريتي اړتياوي به بشپړي او شته ستونزي به ئې حل کړي.

د ماليې وزارت
د ګمرکونو او عوايدو معينيت
د عوايدو لوی رياست

## پر انتفاعي معاملاتو باندي ماليه

| ګڼه | تشريح | د مالي نورم | د ورکړې موده |
|---|---|---|---|
| 1 | د مخابراتي شرکتونو او هغو هوټلونو له ناخالصو عوايدو څخه، چي لوړ خدمتونه وړاندي کوي؛ | 10% | ربعوار |
| 2 | د هوايي ټرانسپورټي شرکتونو او د ودونو د محفلونو تالارونو له نا خالصو عوايدو څخه؛ | 5% | ربعوار |
| 3 | د نورو اقتصادي فعاليتونو له نا خالصو عوايدو څخه؛ | 5% | ربعوار |
| 4 | د صنعتي سکتور، عادي هوټلونو، مېلمستونونو، رستورانتونو، او د ډوډۍ پخولو مرکزونو له نا خالصو عوايدو څخه؛ | 2% | ربعوار |
| 5 | د صنعتي فعاليتونو له پاره د ګمرکي محصول په شمول د وارداتي اموالو له تمام سوي قيمت څخه؛ | 2% | ربعوار |
| 6 | د نورو برخو اقتصادي فعاليتونو له پاره د ګمرکي محصول په شمول د وارداتي اموالو له تمام سوي قيمت څخه؛ | 4% | د واردولو پر مهال |

## پنځمه برخه




### د انتفاعي مالیې پېژندنه

انتفاعي ماليه له هغي ماليې څخه عبارت ده، چي په هره ربعه کي له اشخاصو د ناخالصو عوايدو (فروشاتو) له سرجمع څخه اخيستل کېږي او د کال په اخير کي ئې پر عايداتو باندي د مالياتو په اظهارپاڼه کي د لګښت مجرايي ورکول کېږي.

### يادونه:

په جدول کي درج د (5) او (6) شمېرې ورکول سوې ماليه پر عايداتو باندي د مالياتو او انتفاعي ماليې مخکي ورکړه ده او پر عايداتو باندي د مالياتو قانون د څلورشپېتمي او اويايمي مادې د حکم مطابق د اشخاصو د اړوند کال پر کلنيو عايداتو باندي ماليه او د اړوند کال په ربعواره انتفاعي ماليه کي د مجرايي وړ ده.

حقيقي اشخاص که په هره ربع کي (750,000) افغانۍ يا له دې څخه ډېر ناخالص عوايد ولري، په جدول کي درج د درېيمي شمېرې انتفاعي ماليې تابع کېږي.

MofAfghanistan mof.gov.af

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# تامین مالی اسلامی

عبدالبصیر عمرشاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

**مقدمه**

نظام سرمایه داری کنترول نشده باعث شده است که اقتصاد جهانی در یک بحران بی سابقه فرو رود. اقتصاد دانان در سراسر جهان، علاوه بر این ناراحتی، نگرانند که اقتصاد جهانی در آینده نزدیک افت مضاعف را تجربه کند. این امر نیاز به ریشه کن کردن حباب های عظیم پول و دارایی های واقعی که توسط سرمایه داری وارد شده است و ایجاد یک اقتصاد واقعی و با ثبات دارد. در این نوشته کوشش میکنیم تا بانکداری اسلامی و تامین مالی را به عنوان یک روش جایگزین تامین مالی به گونه راه حل مورد بررسی قرار دهیم. در پی بحران مالی، جهان به آرامی به سوی این مدل تأمین مالی جایگزین و ارایه مجموعه گسترده ای از ابزارهای پیچیده، مانند مضاربه، مرابحه، مشارکه، استصناع، مساقات، اجاره و بسیاری موارد دیگر روی آورده است. پول تنها وسیله مبادله است، راهی برای تعیین ارزش یک چیز به خودی خود هیچ ارزشی ندارد، و بنابراین نباید اجازه داد که صرفاً با گذاشتن در بانک یا وام دادن به شخص دیگری، از طریق پرداخت بهره ثابت، پول بیشتری تولید کند. تلاش انسانی، ابتکار و خطر موجود در یک سرمایه گذاری مولد مهمتر از پولی است که برای تامین مالی آن استفاده می شود. حقوقدانان مسلمان پول را به جای سرمایه به عنوان سرمایه بالقوه می دانند، یعنی پول تنها زمانی به سرمایه تبدیل می شود که در تجارت سرمایه گذاری شود. بر این اساس، پولی که به عنوان وام به یک تجارت داده می شود، به عنوان قرض تجارت تلقی می شود نه سرمایه و به این ترتیب، مستحق هیچ بازدهی (بهره) نیست. امور مالی اسلامی مبتنی بر اصول شریعت است که اصول اصلی شریعت در این زمینه عبارت اند از: ممنوعیت بهره، ممنوعیت عدم اطمینان، پابندی به اشتراک خطر و مشارکت در سود، ترویج سرمایه گذاری های اخلاقی که جامعه را تقویت می کند و حمایت از دارایی. بازار بین المللی مالی اسلامی در سال های اخیر سالانه بین ۱۰ تا ۱۵ درصد رشد داشته است و به کشورهای مسلمان و غیر اسلامی گسترش یافته است. بازار بزرگ و رو به رشدی برای تامین مالی اسلامی در هند وجود دارد. از طریق نهادهای نظارتی بین‌المللی و داخلی، تلاش هایی برای معیاری سازی مقررات در امور مالی اسلامی در کشورهای مختلف و مؤسسات مالی انجام شده است، اگرچه چالش‌هایی همچنان وجود دارد. بانکداری اسلامی اساساً بانکداری منطبق با اخلاق و نظام ارزشی اسلام است و علاوه بر قواعد حکمرانی خوب و مدیریت خطر متعارف، بر اساس اصولی که در شریعت اسلام وضع شده است، اداره می شود. با این حال، به بانکداری بدون بهره که مفهومی محدود است، محدود نمی شود. علاوه بر عدم پذیرش معاملات مبتنی بر بهره، اصل اساسی انصاف است. اعمال اخلاقی، کمک به توزیع عادلانه تر درآمد و ثروت و مشارکت فعال در دستیابی به اهداف و مقاصد اقتصاد اسلامی را پیش بینی می کند.

**نیاز به بانکداری اسلامی:**

با سقوط موسسات عمده وال استریت، به ویژه (Lehman Brothers) و پس از آن بحران مالی جهانی و رکود اقتصادی، بانکداری اسلامی به طور جدی مورد توجه قرار گرفته است و به دلایل زیر به عنوان جایگزین احتمالی برای بانکداری متعارف ظاهر شده است:

۱. بر اساس سرمایه گذاری های اخلاقی و مسئولیت پذیر اجتماعی است.
۲. هدف آن برابری و عدالت است و منجر به کاهش فقر و ناداری می شود.
۳. مفهوم جدید دارایی ها و پروژه های واقعی با هدف حمایت از رشد اقتصادی واقعی به جای مهندسی مالی عمل می کند.
٤. خدمات بانکی ای را به مردم ارائه می دهد که توسط بانک های معمولی نادیده گرفته شده اند.


**اصول اساسی بانکداری و تامین مالی اسلامی:**

اصول اساسی بانکداری و تامین مالی اسلامی را می توان به شرح زیر بیان کرد:

۱. ممنوعیت ربا:

خداوند ربا را از همه نعمت‌ها محروم می سازد و صدقه ها را افزایش می دهد (بقره/۲۷٦). پرداخت و قبول ربا که از مبانی نظام بانکداری متعارف است در بانکداری اسلامی صراحتاً ممنوع است و سرمایه گذاران باید از طرق دیگری جبران شوند. از نظر فنی، ربا به اضافه شدن مبلغ اصل وام با توجه به زمان وام و مبلغ وام اشاره دارد. اسلام در تحریم ربا به دنبال ایجاد جامعه ای مبتنی بر انصاف و عدالت است. وام بدون توجه به نتیجه سرمایه گذاری وام گیرنده بازده ثابتی را برای وام دهنده فراهم می کند که این کار منصفانه نیست. تقسیم سود و زیان بسیار عادلانه تر است. انصاف در این زمینه دارای دو بعد است: تامین کننده سرمایه دارای حق پاداش است، اما این پاداش باید متناسب با خطر و تلاش باشد و بنابراین با بازده پروژه که بودجه برای آن تامین می شود، کنترول شود. از این رو، آنچه در دستورات اسلامی نهی شده است، بازدهی از پیش تعیین شده (بهره) است. تقسیم سود مشروع است و همین رویه پایه و اساس بانکداری اسلامی را فراهم کرده است.

۲. ممنوعیت سفته بازی و خطر بیش از حد (غرر):



یکی دیگر از ویژگی هایی که بانکداری اسلامی آن را محکوم می کند، معاملات اقتصادی با عناصر سفته بازی و غرر است. خرید کالا یا سهام به قیمت پایین و فروش آن به قیمت بالاتر در آینده حرام محسوب می شود. به همین ترتیب، فروش فوری به منظور جلوگیری از ضرر در آینده محکوم است. دلیل آن این است که دلالان منافع خصوصی خود را به قیمت کل جامعه تولید می کنند. بر اساس این ممنوعیت، هر معامله ای که انجام می شود باید عاری از عدم اطمینان، خطر و حدس و گمان باشد. طرف های متعاهد باید از ارزشهای متقابلی که در نتیجه معاملاتشان مبادله می شود، آگاهی کامل داشته باشند. همچنین، طرفین نمی توانند سود تضمین شده را از قبل تعیین کنند. این مبتنی بر اصل "سودهای نامطمئن" است که بر اساس یک تفسیر دقیق، حتی به تعهدی از سوی مشتری اجازه بازپرداخت اصل وام گرفته شده به اضافه مبلغی برای در نظر گرفتن تورم را نمی دهد. دلیل این ممنوعیت این است که از افراد ضعیف در برابر استثمار محافظت شود. بنابراین، اختیار معامله و قراردادهای آینده غیراسلامی تلقی می شوند و معاملات آینده ارز نیز به این دلیل که نرخ ها بر اساس تفاوت سود تعیین می شود، غیر اسلامی محسوب می شوند. تعدادی از معاملات از اصل غرر مستثنی هستند. مانند: بیع با پیش پرداخت (بیع بالثمن عاجل)، قرارداد تولید (استصناع) و قرارداد اجاره، اما الزامات قانونی برای انعقاد این قراردادها وجود دارد که به گونه ای سازماندهی شود که خطر را به حد اقل برساند.

۳. تطبیق نظام مالیاتی اسلامی (زکات):

و مأمور نشدند جز اینکه خدا را بپرستند و در دین برای او خالص باشند و به حق گرایش داشته باشند و نماز را برپا دارند و زکات بدهند، و این دین صحیح است (قرآن ۹۸:۵). زکات سازوکاری برای توزیع مجدد درآمد و ثروت ذاتی اسلام است، به طوری که برای هر مسلمان معیاری برای زندگی عادلانه تضمین شود. زکات مهمترین ابزار برای توزیع مجدد ثروت است. این مالیات یک مالیات اجباری، یکی از پنج اصل اساسی اسلام است و مقدار زکات پذیرفته شده عموماً (۲,٥ درصد) درآمد سالانه مسلمانان به صورت نقدی یا غیر نقدی از هر گونه ثروت ارزیابی شده بیش از نصاب است (پوره شدن حد نصاب). هر بانک اسلامی باید یک صندوق زکات برای جمع آوری مالیات و توزیع آن به طور انحصاری بین فقرا مستقیماً یا از طریق سایر مؤسسات ایجاد کند.

٤.ممانعت از تولید کالاها و خدمات مغایر با الگوی ارزشی اسلام (حرام):

تأمین مالی فعالیت‌ها یا اقلام ممنوعه در اسلام، مانند تجارت مشروبات الکلی و گوشت خوک برای بانک‌های اسلامی ممنوع است. سرمایه گذاری‌ها فقط باید از روش‌ها یا محصولاتی حمایت کنند که توسط اسلام منع نشده اند. بانک‌های اسلامی موظفند تولید کالاهای ضروری را که نیاز اکثریت جامعه مسلمانان را برآورده می کنند، در اولویت قرار دهند و جلو گیری از تمویل تولید و بازاریابی فعالیت‌های تجملی و اسراف را نیز در اولویت قرار دهند. به منظور حصول اطمینان از عدم مغایرت عملکردهای بانک های اسلامی با موازین اخلاقی اسلامی، از بانک های اسلامی انتظار می رود که یک هیئت نظار شرعی مرکب از فقها تشکیل دهند که به عنوان مشاور بانک ها عمل می کنند.

۵. کار و بار مشروع:

تجارت مجاز بوده و ربا ممنوع است. سرمایه گذاری مشترک مبتنی بر تقسیم خطر و سود و ارائه خدمات از طریق معاملات اعم از نقدی و اعتباری و فعالیت های کرایه روا است. سود به عنوان "پاداش" برای (استفاده از) سرمایه شناخته شده است و اسلام اجازه استقرار سودمند منابع مازاد را برای افزایش ارزش آنها می دهد. با این حال، همراه با استحقاق سود، مسئولیت خطر زیان ناشی از سرمایه بر عهده خود سرمایه است. هیچ عامل دیگری نمی تواند بار خطر زیان را تحمل کند.

**ماخذ ها:**

ویبسایت های:
www.icif.in
www.rbi.org
http://www. newhorizon-islamicbanking.com/index.cfm
www.islamic-finance.com
en.wikipedia.org/wiki/ بانکداری_اسلامی
www.islamicfinance.de
www.islamicfinancenews.com


# اعلانات داوطلبی

**اعلان داوطلبی صحن حویلی قسمت منزل دوم و صالون سینما پامیر**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه منزل اول و دوم صالون سینما پامیر، شامل دهلیز، اطاق های لایتینگ به مساحت مجموعی ( ۹۱۷,۵۲ ) مترمربع را جهت فعالیت های فرهنگی، و صحن حویلی سینما پامیر، قسمت منزل دوم شامل دهلیز، اطاق ها وتشناب ها و سمت جنوب منزل دوم تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر به مساحت مجموعی ( ۱۱۸٤,۸٤ ) مترمربع واقع ناحیه اول را جهت فعالیت های تجارتی مجاز به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲٤۱۷۷۲ ) افغانی طور یک جای به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. کوردینات (جی. پی. اس نمبر) ۳٤,٥۱۳٤۲-٦۹,۱۷۲۱۹

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند می توانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۱۴/ سرطان/ ۱۴۰۳ الی ۳/ اسد /۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینماپامیرتعمیر۱۴ منزله،منزل ۵مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز، شماره تماس(۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ – ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی ۴/ اسد/ ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

**د کابل ښاروالۍ لومړۍ او څلورمي ناحيې اړوند د (۴) دولتي ملکيتونو د داوطلبۍ خبرتيا!**

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست، غواړي چي لاندي (۴) دولتي ملکيتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له پاره اعلان ته وړاندي کړي.

۱- د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند سينما پامير ۱۴ پوړيزي ودانۍ لومړي پوړ کي يو باب (۱۴) نمبر غرفه چي (۵,۰٤) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئي (۳٦۲۰۰) افغانۍ ده.

۲- د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند سينما پامير ۱۴ پوړيزي ودانۍ لومړي پوړ کي يو باب (۱۳) نمبر غرفه چي (٦,۰۹) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئي (٤۸۱٥۰) افغانۍ ده. کوردينات(جي.پي.اس نمبر) ۳٤,٥۱۳٤۲-٦۹,۱۷۲۱۹

۳- د کابل ښاروالۍ ۴ مي ناحيه اړوند د دريم پروان په ۱۴مه کوڅه کي يو دربند حويلۍ چي (۲۸۱.۸۷) متره مربع مساحت چي (۴) خوني بدون د کړکيو او همدارنگه يوه حلقه د اوبو ځاه سره د خوني، چي (۲۷،٦٦) متره مربع مساحت لري په پياده رو کي موقيعت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (٥٥۰۰) افغانۍ ده. کوردينات(جي.پي.اس نمبر) ۳٤,٥٤۳٦۲-٦۹,۱۳۱٥۳

٤ - د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيه اړوند د منډيي په کوڅه کي يو باب (۸۳) نمبر دوکان چي (۲۱،۸۴) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئي (۴۴۱۲٥) افغانۍ ده.

کوردينات(جي.پي.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷٥٦,۳٤,٥۱۷۱

هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکيتونه په کرايه ونيسي، کولای سي چي خپل غوښتليکونه د (سرطان /۱۱ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (سرطان / ۲۴/ ۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (٥) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزونې لوی مديريت.

د داوطلبۍ مجلس: د (سرطان /۲٥ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې ترسره کيږي.

د اړيکو شميرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند په منډيي کي د ظاهر شاهي مارکېټ (۱۰) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتيا!**

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند د منډيي په کوڅه کي د ظاهر شاهي مارکېټ (۱۰) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د داوطلبۍ له پاره اعلان ته وړاندي کړي.

۱.د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ٦۱ نمبر دوکان د ٥,۹٤ مترهه مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱۱۱٤٥) افغانۍ ده.
۲.د ظاهر مارکېټ اړوند، يو باب ٦۲ نمبر دوکان د ٥,٦۱ مترهه مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱۱۱٤٥) افغانۍ ده.
۳. د ظاهر مارکېټ اړوند، يو باب ٦۳ نمبر دوکان د ۷,٤٥٥ مترهه مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۹۳۱۰) افغانۍ ده.
۴. د ظاهر شاهی مارکېټ اړوند، يو باب ٦٤ نمبر دوکان د ۷,٦ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱۲۷۷۱) افغانۍ ده.
٥. د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ٦٥ نمبر دوکان د ۷,۰۸۷ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱۲٤٥۹) افغانۍ ده.
٦. د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ٦٦ نمبر دوکان د ۷,۰۸ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱۲٤٥۹) افغانۍ ده.
۷. د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ٦۷ نمبر دوکان د ۱۲,۷۲ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱٥۸۰٦) افغانۍ ده.
۸. د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ٦۸ نمبر دوکان د ۱٦,٤٥ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۲۷٤۹۸) افغانۍ ده.
۹. د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ٦۹ نمبر دوکان د ۱۳,٦۸ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۲۲۸٦۸) افغانۍ ده.
۱۰. د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، يو باب ۷۰ نمبر دوکان د ۸,٤ متره مربع مساحت په درلودو سره، چي ابتدايي مياشتنۍ کرايه ئې (۱۲۳۳۸) افغانۍ ده.

کوردينات(جي.پي.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷٥٦,۳٤,٥۱۷۱

ټول هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرايه ونيسي کولای سي چي خپل غوښتليکونه د (سرطان /۲ /۱۴۰۳) څخه وروسته د (سرطان /۲۲ /۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (٥) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مديريت.

د داوطلبۍ مجلس: د (سرطان/۱۴۰۳/۲۳) نېټه، د ماسپښين ۱۰:۰۰ بجې ترسره کيږي.

د اړيکو شميرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)







## افغانستان د (۳) میاشتو په جریان کې د (۳۰٤) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي



د شینوا – Xinhua په نوم د چین خبري اژانس د افغاني صادراتو په هکله راپور خپور کړی دئ، چي وایي افغانستان د (۲۰./ مارچ ــ ۲۰./ جون/ ۲۰۲٤ ز) په جریان کي د (۳۰٤) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت سوداګریز توکي/ مالونه صادر کړي دي. دا راپور د سوداګرۍ او صنعت وزارت د ویاند اخوندزاده عبدالسلام صاحب په حواله داسي لیکي: "د روان (۱٤۰۳ ل ل) د لومړی ربعي په درشل کي د افغانستان د صادراتو ارزښت (۳۰٤) میلیونه امریکایي ډالره او د (۲,۲۷۳) بیلیونو/ میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت بیا واردات لري، چي ټولیز رقم ئې (۲,۵۷۷) بیلیونو امریکایي ډالرو ته رسیږي."

په متن کي د افغاني صادراتو له مخي د (اوو) وارداتي هیوادونو نومونه راغلي دي ــ جواد صاحب وایي، چي افغانستان خپل لومړني صادراتي توکي و پاکستان، ایران، متحده عربي امارات، هندوستان، استریا/ اطریش، ازبکستان او روسیې ته صادروي. په وروستۍ برخه کي د افغاني صادراتو نومونه په مېوو پیل او پر طبي درملو تمامېږي، چي وایي په عمده صادراتي توکو کي تازه او وچه مېوه؛ لکه: پسته، جلغوزي، اینځر، انار، انګور، کیشمیش/ کشمش یا ممیز، ختکي او هیندوانې شامل دي. نور مهم صادرات ئې له غالۍ، لاسي صنایعو او له طبي درملو څخه عبارت دي.

## Minister of Finance Hosts 'Investors from Uzbekistan' as New Investment Opportunity Looms




Minister of Finance Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund has met with some investors from Uzbekistan in his office. Initially, the Hon. Minister of Finance welcomed the investors from Uzbekistan and assured them for the provision of fundamental and sufficient opportunities regarding investment in Afghanistan.

**"Corruption has been eradicated and complete security has been established, so that all domestic and foreign investors can invest in various fields with fully confidence by taking advantage of this opportunity"**, the minister of finance added.

Uzbek investors have also expressed interest from their side in investing in the fields of minerals, industry, electricity and system modernization in Afghanistan. The guest investors have requested necessary cooperation for investment, which were avouched by Hon. Mullah Naser Akhund admittedly. The Minister of Finance has thanked the Uzbek investors for their willingness to invest in Afghanistan and assured them for the indispensable cooperation and basic facilities with the relevance of investment in the said arenas.

## General Directorate of Customs Announces Rebuilding Project of Eastern Wall of Kabul Customs After MoF Funds from its Development Budget



The reconstruction project of the eastern wall of Kabul Customs has been launched by some officials of General Directorate of Customs of Mof at a cost of over one million Afs. The cost of this construction project will be paid from the development budget of MoF and the construction working will be completed by an Afghan corporation within three months. With the completion of the mentioned project, facilities may be provided for traders and the officials of customs accordingly. In addition, the scope of security of commercial goods and commodities will be expanded.

### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هېوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.

ټلیفون او واټساپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳

/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦ (۹۳+)

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!

اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.